



# نجم الرحمن « مواج »



تاریخ نشر : 23 مارچ 2016 م


# د رحمان بابا ، شعری سمندر سیاسی څپې



په « ۱۰۴۲ هجری قمری» کال د عبدالستار په کورکې د پښتونستان د پیښور په سیمه بهادرکلی کې یوماشوم وزیږید چی عبدالرحمن ونومول شو .
د خپل وخت د یونامتو شاعر، صوفی اوعارف په توګه وپیژندل شو. دا د پښتوادب نه هیریدونکی پیاوړئ شخصیت په « ۱۱۴۲ هجری قمری» کال له فانی نړئ سترګې پټې کړي اما د خپل پتمن اوادبی فرهنګی رسالتوال ژوندکې یې ځان ته ترفزیکی تګ او دژند له پولې او ښتلونه را وروسته دومره پوخ اوپاتي شوني کارکړئ وو چې مړینه هڅو د هغه د هیرولو توان نه لري .

د خپلوفرهنګی نه ستړی کیدونکی هلوځلوقلمی، ښومیراثونو له برکته د لمراو ځمکې له ژوند سره سم پایي او، ورځ تورځی قلموال اوفرهنګپال مینه وال یې د خاطرو درناوی له امله د دې ، منلي شخصیت د مینه والوزړونوته د نویو ولولو راپارولو په سپیڅلې مینه نوي لارې خپلوي اودا، اغیزمن ګام لاغزونه مومي .
د دې ورځنی لاغزوني یواغیزمن لامل زماپه اند دا دئ چې دخپلی زمانی ستراونامتو صوفی او عارف پوهاند رحمان بابا ( رح ) یوازی صوفی اوعارف نه بلکې د، یو تدبیروال ټولنپوه اودسیاسي روانو حالاتوسترهمتوال جاج اخیستونکی مشرپه توګه یې خپل لوړخیال اوژورفکردپیدوتل ژوری پیژندنی اوسخاوتمندانه خورلوته کارولای دئ .
زموږ د معاصرپښتوادب دوه تلپاتی مشران اوستوري درحمان بابا ( رح) په اړه داسې کښلې دي :
د اروابناد پوهاند صدیق الله « رشتین » یادونه :

« درحمان بابا د پښتو شعراوادب هغه ځلانده ستوری دئ چې دلیرې اوبرې پښتونخوا په آسمان کې یوشان ځلیږي. دده خوږنوم یادده دلوړي شاعر احترام دده دده روحانی اوملکوتي غږدتولو پښتنو په زړونو کې یورنګ موجوددئ .
د رحمان بابا کلام رنګین ،عام فهمه، سلیس، روان اونازک خیاله دئ.دده په کلام کې هرډول شعرونه موجوددي او دهرچاپه ذوق برابر مطالب لري.
د ده په شعرونوکي دیني ، علمی ، ادبی ، اخلاقی، او ټولنیزمسایل ،بشری، بشري مناسبات ، انسانی صفتونه لکه :
لوړاخلاص، ربنتیا ، ربنتیا او صداقت ، عدالت ،علم او پوهه ، تقوا ، اوعبادت ، صبر او زغم ، قناعت ، نیکی ، ښیګڼې ، متانت ، سخاوت ، زحمت، اوریاضت، عزت، میرانه اولوړهمت، ننګ اوغیرت، ځان غوښتنه اوتنګ نظري، کبر اوغرور، کینه، غیبت ،حسادت اوکرکه، اتحاد او اتفاق، وروروړی، آزادي، اوخپلواکي، ظلم او ستم او داسې نور خصایل، په ډېرانساني اواسلامي فکرونو، صوراتو اوخیالونو کې په ډیره خوندوره او ساده ژبه اوپه ساده ژبه او په ډیر عالی مفاهیمو او معناګانو کې بیان شوي دي .»

داروابناد استاد الفت یادښت :
« د خیبراوتیرا، له غرونوهغه خوا د پیښور په بهادرکلی کې یوپښتون فقیر اوسیده چې خبرې یې شعراوشعریې حکمت و. رحمان بابا هغه څوک وچې دغفلت له خوبه دبلبلوپه آوازراوینښ شو اودزره مراقبه یې دکلوله غونچواوغوتیوزده کړه. په زړه کې یې دپاک خدای دمقدس عشق لمبې بلې دي اوله ژبې یې سوزان شعرونه راوتل ..»
له انسان سره دنه شلیدونکی مینی اود خپلو ټولنیزوسیاسی حالاتوته په مسولانه کتلوسره، د تصوفی اوعرفانی پخې جاذبې او مشرتوب سره سره، له خپلی ټولنې پردئ پاتی نشو او د سیاست او ټولنیز ژوند سره یې دیوه پوخ ټولنپیژاند عالم په توګه ځیرنه درلوده اودشعرپه وسله یې نښنه ډیره پرځای ویشتله.څنګه چې وایي ؛:

هیڅ مې نه زده نه پوهیږم دا څه پېرشه
چې د لدارمي د اغیا رپه شکل ځیرشه

ربنتیاه م چې په سیاسی ژوند کې کله ناکله کورني او بهرنې فکتورونه سره په ټکرکې شی. د نوروګڼولاملونو ترڅنګه ځانمني یوغښ اوپارونکئ لامل دئ چې پرپخوانیو ژمنوتوره خاوره اړوی اویو، له بله سره بیلوي اودیوي سیاسی ګډې موخی ملګری دوستان او،ورونه، چې کلونه، کلونه یې دیوې ګډې کړنلارې پرمخ بیولولپاره دګدوپرله پسې مبارزواو جهادپه مینه یې دګډ زندان په

ګډه خونه اوسلول کې وهل او ځورول شوي، نه یوازې داچې سره بیلوي بلکې وسله والی مخامخ
جګړې ته هڅوی .
یا داچې له زمانې نه د ګیلې په توګه دروند او بابا شاعر د خپل وخت ناځوانو شرایط داسې
انځوروي :

زمانه مې در قیب له لاسه وژني
چې مې سپی ګانه هغه راباندې شیرشه

د شعرداببیت په اوسنی روانوحالاتو کې په کره توګه نه یوازې زموږ په هیوادکې ، چې په
تیرو څلورولسیزو کې زموږ ځینی ګاونډي هیوادونه له څه ستونزوسره مخ کړو، او داهیوادونه په
تیرو پنځوسو کلونوکې زموږ دهیواد په پرتله کومه اقتصادی اوسیاسی ښه لرل، بلکی دنړی په
روانو سیاسی کړو، وړوکې په زغرده دیوې ورځنی سیاسی چلند په توګه لیدلای شو.
که دهمدې سیاسی بیت منځپانګی ته وردننه شوسیاستوال دي ته هڅوي چې ددې غمیزی یعنی
داچې ډیر ضعیف غلیم غښتلی کیدل اصلی لامل وپیژندل شي اودتیریرم بیا موندلوته متې راونغاړي .
همداراز دوخت سیاسی ناتارنه دغوره غزل په یوه برخه کې په رسا ژبه داسی غږباسی :

خدای دیارله هجره هیڅوک خبرمه کړه
تاخت وقتل وداخبردرې واړه یودې
په سبـب د ظالمــــانو حــاکمانو
کور وګوراوپیښوردرې واړه یودي
وردې نه شي په پردی زمکه هیڅوک
کوروکر ومبصر درې واړه یودي
چې دې نه په کې یویارنه دې آشنا وي
هغه ښار وبحر وبردرې واړیودي

په ربښتیاهم کله چې په یوه تولنه کې دظلم څپه په یوډول نه یوډول خوره شي له ژونده خوند د
جګړې په سیند کې لاهوکیږي، دکوراوکلی ماحول په زندان اوپایله کې په ګور،اوړي. داچې ویل شوي
دي چې شعردزړه آوازدئ اودورځنی ژوندانه انځورونکئ ، نو، حساس شاعر نشي کولای چې د
خپلی سیمې او اوسیدونکیوله غم او زغم سره ځان شریک ونه بولی اوله هغوی سره خواخوږئ نه
وي. شاعراوبیاپه تیره بابا شاعر په څوارځیزه توګه دهماغه وخت تاریخی جبرغندی اوپه ښکلی
شعری انداز له ناخوالونه شعری عکاسی شوې تابلو دپیریوپه پوریوکي د حق اوعدالت سیاسی مینه
والوته داسي تاریخي یادګارپرېږدي چې هم پخپله د شاعرژورلید اودانسانی انګیرتومنه اوهم دهماغې
دورې ربښتینې څیره په کې ښه وځلیږي اولوستونکیوته دتلپاتی اوغوره پیام لمریزه وړانګه وي .
دهرډول قومی تعصب پرضد ناره یې داده :

زه عاشق یم سروکارمي دئ له عشقه
نه خلیل نه د داوودزئ یم نه مومند

اویا داچې :

ترخی اوښکې دعاشق آب و نمک دي
خدای دې نه کا څوک بی آب وبی نمکه
ربښتنی عاشق دخپل همنوع یعنی انسان سره دهغه له انسانی غوښتنې اوحقپالنی سره ربښتونی
مینه څرګندوي په بریا،یې خوښیږی اودستونزوهوارولولپاره یې تروسه زیارباسی او دورورګلویزی
مینې پرمټ یې د ګنوستونزو، ګرداوله کومې دژغورنې ساحل څنډې ته راکاږي او خونديکوي .

قومی تعصب په کلکه غندي اوورنه کرکه لري او دانسانی ټولنې خیرښیګڼه په دې کې ویني چې د همغږۍ کلکې ارادې مزۍ لامرغلین کړي .
دلته داسې نغوته لري :

حق باطل کا باطل حق کا
په سبب دروی ریا
ګوش اوهوش یې هرګزنه وي
د مظلومو په ژړا

سیاسی تنګ نظری په کلکه غندی او هرڅه د څوتنو شاوخوا، سیاسی لاس پوڅو، لږکي، انډیوالانوته منحصرکول د ډیریوپرړواحقونو څرګندتیری بولی ، چې د بی باوریو لمن غځوی اودژورکړکیچ لامل ګرځي .
دعدالت په برخه کې :

که بلنده مرتبه د چا په کاروی
لوی مقام دئ عدالت په دادنیا

عدالت د اسلام سپیڅلي دین ارشاداتو، اوهمداشان ډیرمختللیو هیوادونو اومدنی ټولنوښستیزه غوښتنه ده چې په همدي وسیله انسانی ټولنه دپ رمختګونو لوړوپوړیوته لارباسي او دوروګلویزې میني له برکته ګام په ګام د نوییوپرمختګونو حیرانوونکیوپړاوونوته رسیږي .
همداشان د دبنمن لنډ مهاله دوستي ته داسې ګوت څنډنه لري :
چې دبنمن یې وي له دوسته اړولی
ده غواحتیاط بویه له کومکه
داهم یوسیاسی ژورلید ، نصیحت دئ چې د دبنمن په پستوخب رو دولتی واکداران تیرنه وځي اوخپل ملی دریځ ترهرڅه غوره وګڼېږ اوکه داسې نه وي بیابه پښیمانې کومه ګټه ولري اوتاریخي ماتی له نه هیریدونکیو پیغورونو سره نویو پښتونوته پا تې شي .
دلته عمل اوعکس العمل ته داسې فلسفی ژوره نغوته لري :

که ته نکړي په بل چاباندي غرض
بل به نه کاندي په تاباندې غرض
****
له اغیارسره خنداڅه په کارنه ده
له اغیارسره سوداڅه په کارنه ده
سل یاری دیوه یاردپاره کړی شي
آشنایی دهرآشنا څه په کار نه ده
****
کله چې د اغیارتول کړه وړه دبشپړي رسوایی ترپولې رسیږي اوشاوخوا ټول حقیقتپال ذهنیت پرې شهادت ورکوي بیانوهغه پیژندل غلیم ته چې په راز، رازچمونو دخپلی توری موخی لپاره هرې خواته لاس غځوي د دوستی لاس ورکول څه چې آن په ورین تندي کټل هم غندي . دا د سیاسی پوهی هغه اړخ دئ چې دشعری کلام سیاسی جوهر جوړوي .
سوله اوفتنه وال ژوند داسې پرتله کوي :

زهربښه دئ که په صلح اوصلاح وي
نه شکرې په فتنه او په غوغا
چي دوروراوعزيززړه پرې آزارشي
حاصل مه شه هغه خپله مدعا

يا داچې :

بزرگی په دلجويې کي ده د خلکو
ته چي خلک ډوبوي څنګه بزرگ يې

دلته د سياست هغه اړخ ته جوته اوروښانه لاربښوونه ده چي سياستوال او حکومتی واکوال ښايې په ډيره ځيرتيا اومسوليت په بشپړصداقت خپل سپارل شوي صلاحيت وکاروي .
د تولنيزسم سلوک په اړه خپله لويی اوزړه سواندي داسی بيانوی :

کوهی مه کنه دبل سري په لارکي
چېرې ستابه دکوهی په غاړه لارشي

کوهی کنل اووژل له قابيل نه رايه دې خوا په زرګونه ډوله دپيريو په پوړيوکې ورځ ترورځې په ډيره بدرنګه بڼه، بڼه بدلوی اوآن داچي انسان په اوسني روانوورځنيوحالاتواوکړو،وړوکې، دانسانيت وجودی فلسفی سره په زغرده ټکرکې داسې کارونه کوي چی انسانی ويښ وجدان لړزيږي،ترې کرکه کوي اوپرې لعنت وايي .
د عزت اوحرمت ژوندته داسې فلسفی نغوته لري :

چي عزت حرمت يې نه وی په جهان کی
هغه هسي ژوندون وسوزه په اور
بی عزت سړئ به خوښ دهيچا نه وي
مګر هسی بی عزت وي ځيني نور

دلته عزت اوحرمت،اعتباری شخصيت نه سيوا چی دڅوکی اوورکړشوي مقام معنالري د اعتبارورنه ګڼي اوداسي کسانوته يوازی اويوازی په خپل تنګه او،ورته تشکيلاتی کړی کی دبی عزتی له معناډکه نغوته ده چي داسې ژوند په اورسيزل غوره ګڼي نه ورسره همغږې اوپرې وياړل .

چي داورلمبووهلئ وي بياروغ شي
نه رغيږي دآزار لمبووهلئ

د اورلمبوته شعری نغوته د ظلم اواستکبار خورول او، د همدي ناورين په اور دانسانی تولنې مادی او معنوی هستی بربادولوبرښډول اوغندنه ده.
دلته بياهم د خبروپای په توګه درحمان بابا د شعرسمندرسياسي څپه دومره غښتلی ده چي دهمدي بيت هراوريدونکی پرته له کوم تلکفه د شعر منځپانګې نه د خپلي پوهي په تناسب ګټه ، خوند او ځور اخيستلای شي .
درحمان بابا ستر روح ته دارادی ګيدی ګيدی ګلونه وړاندې کوم اوشعري سمندر څپوته يې د انساني تولنې او په تيره بيا د نوي پښت ژورپام او څپاند، نه تميدونکي، ګټورتکل په هيله .

****

نجم الرحمن « مواج »

بارگشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org